## د Title VI د شکایت پروسیجر

هر هغه څوک چې باور لري چې هغه (که نارینه وي او که ښځینه)، په انفرادي توګه یا د خلکو د یوې ځانګړې طبقې د غړي په توګه، د نژاد، رنګ، ملي اصل، جنسیت، عمر، محدودې انګلیسي پوهې (LEP)، یا معلولیت پر بنسټ له تبعیض سره مخ شوی، کولی شي شکایت د AOT د مدني حقونو او د کارګرانو اړوند مقرراتو د تعمیل دفتر (Office of Civil Rights and Labor Compliance) ته وړاندې کړي.

د Title VI برنامې اړوند د تبعیض شکایتونه کېدی شي آنلاین د [Title VI شکایت فورمې](https://tinyurl.com/aottitlevi) (https://tinyurl.com/aottitlevi) ته د لاسرسي له لارې وړاندې شي. یو ځل چې شکایت وړاندې شي، د AOT د Title VI همغږي کوونکی به د شکایت کوونکي سره اړیکه ونیسي. د Title VI شکایت د پوست، بریښنالیک یا ټیلیفون له لارې د سپارلو لپاره د اړیکې معلومات په لاندې ډول دي:

Patricia Martin, Title VI Coordinator
Vermont Agency of Transportation
Office of Civil Rights and Labor Compliance
219 North Main Street
Barre, VT 05641

بریښنالیک:
[patricia.martin@vermont.gov](mailto:patricia.martin@vermont.gov)
ټیلیفون: 802.595.6959

لیکلي شکایتونه باید د شکایت کوونکي لخوا لاسلیک شوي وي. د ټیلیفون یا بریښنالیک له لارې وړاندې شوي شکایتونه او نه لاسلیک شوي لیکلي شکایتونه باید د شکایت کوونکي یا د هغه/هغې د استازي لخوا د لومړني شفاهي/الکترونیکي/نه لاسلیک شوي شکایت څخه وروسته د 10 کاري ورځو په موده کې په لیکلي بڼه او لاسلیک شوي وړاندې شي. د بریښنالیک له لارې سپارل شویو پوښتنو ته ځواب ورکول کیږي او تعقیب کیږي. که چیرې شکایت کوونکی د لیکلي سند د سپارلو لپاره مرستې ته اړتیا ولري، نو د AOT د مدني حقونو دفتر یو غړی به د شکایت کوونکي سره مرکه وکړي او هغه کس سره به د شفاهي شکایت لیکلي شکایت ته د بدلولو په اړه مرسته وکړي. دا سند باید د
شکایت کوونکي یا د هغه/هغې د استازي لخوا لاسلیک شي. د فدرالي او ایالتي قوانینو پراساس، اړتیا ده چې شکایت د تبعیض د ادعا شوې پېښې له نېټې څخه په 180 ورځو کې دننه ثبت شي.

یو ځل چې شکایت په لیکلي بڼه وړاندې شي، AOT به د شکایت د حل لپاره لاندې ګامونه پورته کړي:

1. شکایت به د AOT د Title VI شکایتونو په لاګ (یعني ریکارډ) کې ثبت شي چې د AOT د مدني حقونو دفتر (Office of Civil Rights) لخوا ساتل کیږي، چې د شکایت کوونکي نوم، د پېښې نېټه، ادعا شوی زیان، او د شکایت کوونکي اړوند ډیموګرافیک معلومات په ګوته کوي.
2. د AOT د Title VI همغږي کوونکی به د Title VI د شکایت فورمه بشپړه کړي (پاڼه 29 وګورئ).
3. د فورمې په اړین معلوماتو کې لاندې موارد شامل دي:
   a. د هغې پېښې نېټه کومه چې د شکایت موضوع ده؛
   b. د پېښې وخت؛
   c. د پېښې ځای؛ او
   d. د پېښې حالات په دومره ډېر تفصیل سره څومره چې شتون لري، په شمول د مسایلو تشریح او د هغو کسانو نومونو او د دندې منصبونو چې د شکایت په اړه ښکېل ګڼل شوي دي.
4. بشپړه شوې فورمه، د لومړني شکایت لیک سره او د نور هر ډول ارتباط لندیز سره، به د FHWA ورمونټ د ځانګي دفتر (Vermont Division Office) ته وسپارل شي تر څو وروسته په واشنګټن ډي سي کې د FHWA د مدني حقونو مرکزي دفتر (FHWA Headquarters Office of Civil Rights (HCR)) ته وسپارل شي.

5. FHWA HCR پرېکړه کوي چې آيا شکايت ومني، رد کړي، يا يې بلې ادارې ته انتقال کړي. کله چې FHWA HCR پرېکړه کوي چې آيا شکايت ومني، رد کړي، يا يې بلې ادارې ته انتقال کړي، نو FHWA HCR به شکايت کوونکي، د ورمونټ د ځانګړي دفتر، AOT، او فرعي ترلاسه کوونکي (که پلي کېږي) ته خبر ورکړي. د شکايتونو د FHWA پروسس کولو لپاره ځلور احتمالي پايلي شتون لري:

منل: که چيرې شکايت په وخت ثبت شي، د Title VI لاندې د ادعا ملاتړ کولو لپاره کافي معلومات ولري، او د FHWA د قانوني واک لاندې موضوعاتو سره اړوند وي، نو HCR به شکايت کوونکي، AOT، او د FHWA د ځانګړي دفتر ته يو ليکلي خبرتيا واستوي چې شکايت د تحقيقاتو لپاره منل شوی دی.

لومړنی بياکتنه: که دا واضح نه وي چې آيا د شکايت ادعاوې د Title VI لاندې د ادعا ملاتړ لپاره کافي دي يا که نه، نو HCR ممکن (1) شکايت رد کړي يا (2) لومړنی بياکتنه ترسره کړي ترڅو له شکايت کوونکي او/يا ځواب ويونکي څخه اضافي معلومات ترلاسه کړي مخکې له دې چې پرېکړه وکړي چې شکايت ومني، رد کړي، يا بلې ادارې ته يې ولېږي.

د طرزالعمل له مخې ردول: که چېرې شکايت په وخت ثبت نه شي، په ليکلي بڼه او لاسليک شوی نه وي، يا نورې د طرزالعمل/عملي نيمګړتياوې ولري، نو FHWA HCR به شکايت کوونکي، AOT، او د FHWA ځانګړي دفتر ته يو ليکلي خبرتيا واستوي چې مورږ شکايت رد کوو.

راجع کول/ردول: که چېرې شکايت له طرزالعمل سره سم وي خو (1) FHWA د موضوع په اړه قانوني واک ونه لري يا (2) د ځواب ويونکي ادارې باندې قانوني واک ونه لري، نو FHWA HCR به يا شکايت رد کړي يا به يې يوې بلې داسې ادارې ته انتقال کړي چې اړوند قانوني واک لري. که FHWA HCR شکايت رد کوي، نو شکايت کوونکي، AOT، او د FHWA ځانګړي دفتر ته به د ردولو د ليکلي خبرتيا يوه کاپي واستوي. د راجع کولو په صورت کې، FHWA به د شکايت سره يو ځای د راجع کولو يوه ليکلي خبرتيا مناسبه فدرالي ادارې ته واستوي او يوه کاپي به د USDOT د مدني حقونو د ځانګړي دفتر ته هم واستوي.

6. يو شکايت ممکن د لاندې دلايلو له مخې رد شي:
   a. د ادعا شوې پېښې او د لومړني شکايت د ثبتولو ترمنځ له 180 ورځو څخه زيات وخت تېر شوی وي.
   b. ادعا په Title VI کې شامل بنسټونو لکه د نژاد، رنګ، ملي اصل، عمر، جنسيت، محدودې انګليسي پوهې (LEP)، يا معلوليت پر اساس نه وي.
   c. ادعا د AOT يا د هغې د فدرالي تمويلونو فرعي ترلاسه کوونکو سره تړاو نلري.
   d. شکايت کوونکی د شکايت د پروسس کولو لپاره اړينو اضافي معلوماتو لپاره تکراري غوښتنو ته ځواب ورکولو کې پاتې راشي.
   e. شکايت کوونکی له معقولو هڅو وروسته ونه موندل شي.

7. FHWA HCR د ترانسپورټ ايالتي ځانګو (State Departments of Transportation) او نورو اصلي ترلاسه کوونکو د تولو تحقيقاتو د ترسره کولو لپاره مسؤليت لري. د يو فرعي ترلاسه کوونکي خلاف د شکايت په صورت کې، FHWA HCR کولی شي يا خپله پلټنه ترسره کړي، يا يې د تحقيقاتو د ترسره کولو مسؤليت د اصلي ترلاسه کوونکي ايالتي DOT ته وسپاري. که چيرې HCR د فرعي ترلاسه کوونکي د پلټنې ترسره کولو مسؤليت وسپاري، نو HCR به د شکايت منلو په اړه شکايت کوونکي او ځواب ويونکي ته خبر ورکړي، خو د AOT د Title VI همغږي کوونکی به تولې د معلوماتو غوښتنې، مرکې، او تحليلونه ترسره کوي.

که چيرې پلټنه د AOT د Title VI همغږي کوونکي/د مدني حقونو دفتر لخوا ترسره کېږي، نو دا بايد د FHWA لخوا د سپارل کېدلو له ترلاسه کولو وروسته د 60 ورځو په دننه کې بشپړه شي.

که FHWA HCR څېړنه ترسره کوي، نو هيڅ مقرراتي د وخت حد شتون نه لري، خو FHWA هڅه کوي چې تولې دندې د منلو له نېټې څخه په 180 ورځو کې دننه بشپړې کړي.

8. که څېړنه د AOT د Title VI همغږي کوونکي لخوا ترسره شي، نو د Title VI همغږي کوونکی به د څېړنې يو راپور (ROI) جوړ کړي، چې FHWA HCR ته به واستول شي. HCR به د ROI بياکتنه وکړي او د ROI پراساس به د موندنې ليک وليکي.

## د معلولیت لرونکو امریکایانو د قانون (ADA) د شکایت طرزالعمل

هر هغه څوک چې باور لري چې هغه په انفرادي توګه یا د خلکو د ځانګړي ټولګي د غړي په توګه د معلولیت پر بنسټ د تبعیض سره مخ شوی، کولی شي د ورمونټ د ترانسپورټ ادارې د مدني حقونو دفتر (Vermont Agency of Transportation's Office of Civil Rights) ته شکایت وړاندې کړي.

ټول شکایتونه چې د معلولیت د تبعیض سره تړاو لري باید Patricia Martin، د ADA او Title VI همغږي کوونکي، د ورمونټ د ترانسپورټ ادارې (AOT) د مدني حقونو دفتر ته واستول شي.
شکایتونه ممکن په بریښنایي بڼه، د ټیلیفون له لارې، د فکس، یا د متحده ایالاتو د پوست خدمت (USPS) له لارې، په لاندې ډول ثبت شي:

- په الیکټرونیکي بڼه د AOT ویب‌پاڼې له لارې: https://tinyurl.com/aotada
- بریښنالیک: AOT.CRADA@vermont.gov
- ټیلیفون: 802.595.6959
- Patricia Martin, ADA & Title VI Coordinator
  - Vermont Agency of Transportation
  - Office of Civil Rights
  - 219 North Main Street
  - Barre, VT 05641

ټول هغه کسان چې AOT ته د ADA اړوند شکایت وړاندې کوي، هغوی سره به د شکایت له سپارلو وروسته د دریو (3) کاري ورځو دننه اړیکه ونیول شي. AOT د ټولو ADA شکایتونو او اندېښنو لپاره د عادلانه او چټک ځواب ورکولو او د حل پروسې ته ژمن دی. که چیرې یو کس د شکایت ثبتولو لپاره مرستې ته اړتیا ولري، د AOT د ADA همغږي کوونکی یا د AOT د مدني حقونو د دفتر بل غړی به په شکایت ثبتولو کې مرسته وکړي. د فدرالي او ایالتي قانون پراساس، اړتیا ده چې شکایت د تبعیض د ادعا شوي پېښې له نېټې څخه په 180 ورځو کې دننه ثبت شي.

یو ځل چې شکایت وړاندې شي، AOT به د شکایت د حل کولو لپاره لاندې ګامونه تعقیب کړي:

1. د شکایت کوونکي سره به د شکایت د سپارلو وروسته د دریو (3) کاري ورځو په دننه کې اړیکه ونیول شي او هغه ته به د پروسې وضاحت ورکړل شي او د شکایت د موضوع د حل لپاره به ورته لاربنود او مرسته وړاندې شي.

2. د AOT د ADA همغږي کوونکی به د شکایت فورمه پیل کړي.

3. د فورمې په اړین معلوماتو کې لاندې موارد شامل دي:

   a. د هغې پېښې نېټه کومه چې د شکایت موضوع ده؛
   b. د پېښې وخت؛
   c. د پېښې ځای؛ او
   d. د پېښې حالات په دومره ډېر تفصیل سره څومره چې شتون لري، په شمول د مسایلو د تشریح او د هغو کسانو د نومونو چې د شکایت د خواوو په توګه ګڼل کیږي.

4. بشپړه شوې فورمه، د لومړني شکایت لیک سره او د نور هر ډول ارتباط لنډیز سره به د بیاکتنې لپاره د AOT د مدني حقونو مدیر (AOT Director of Civil Rights) ته وسپارل شي. د مدني حقونو مدیر (Director of Civil Rights) به د شکایت صلاحیت او د منلو وړتیا او د اضافي معلوماتو لپاره کومه اړتیا وټاکي. وروسته له دې چې کوم اضافي معلومات ترلاسه شي، د مدني حقونو مدیر به پریکړه وکړي چې شکایت ومني یا یې رد کړي.

5. شکایت کوونکي ته به یوه لیکلي خبرتیا ورکړل شي چې AOT شکایت منلی دی یا یې رد کړی دی.

6. شکایت ممکن د لاندې دلایلو له مخې رد شي:

   a. د ادعا شوي پېښې او د لومړني شکایت د ثبتولو ترمنځ له 180 ورځو څخه زیات وخت تیر شوی وي.
   b. ادعا د معلولیت سره تړاو نلري.
   c. ادعا د VTrans یا د هغې د فدرالي تمویلونو فرعي ترلاسه کوونکو سره تړاو نلري.
   d. شکایت کوونکی د شکایت د پروسس کولو لپاره اړینو اضافي معلوماتو لپاره تکراري غوښتنو ته ځواب ورکولو کې پاتې راشي.
   e. شکایت کوونکی له معقولو هڅو وروسته ونه موندل شي.

7. منل شوي شکايت ته به د قضيې شمېره ورکړل شي او په ډېټابيس کې او د AOT د ADA شکايت لاګ (ريکارډ) کې به پداسې توګه ثبت شي، چې د شکايت کوونکي نوم، د پيښې نېټه، او د ادعا شوې پيښې معلومات په ګوته کوي، دغه لاګ (ريکارډ) د AOT د مدني حقونو دفتر لخوا ساتل کېږي.

8. د AOT د ADA همغږي کوونکی به، د مدني حقونو د دفتر نورو هغه غړو په مرسته چې د شکايتونو څېړنو کې روزل شوي وي، د شکايت د پلټنو پيلولو لپاره ګام اخلي او د شکايت د منلو څخه په 45 ورځو کې دننه به راپور بشپړوي. په راپور کې بايد د پيښې يو تشريحي بيان، د مرکه شويو کسانو پېژندنه، موندنې، او د پرېکړې لپاره وړانديزونه شامل وي.

9. راپور به د AOT د مدني حقونو دفتر د مدير لخوا بياکتنه وشي او که مناسب وګڼل شي، د AOT قانوني څانګې ته به راجع کړل شي. مدير به د قانوني افسر سره په مشوره د پرېکړې لپاره وړانديز ومني يا به يې رد کړي، او که ښکېل کسان وموندل شي چې د ADA برنامې له اړتياو څخه يې سرغړونه کړې، نو اصلاح کوونکي اقدامات به وټاکل شي.

10. د پلټنې پايلې او د مدير پرېکړه به شکايت کوونکي ته د پوست له لارې واستول شي. په خبرتيا کې بايد د شکايت کوونکي د استيناف غوښتنې حقونو په اړه معلومات او د دغه استيناف غوښتنې د پيلولو لپاره لارښوونې شاملې وي. د استيناف خبرتيا په لاندې ډول ده:

a. AOT به د پرېکړې بياکتنه وکړي، که چيرې نوي حقايق څرګند شي.
b. که چيرې شکايت کوونکی د AOT لخوا ورکړل شوې پرېکړې او/يا حل څخه ناخوښ وي، نو همدغه شکايت لاندې ليست شوې اړوند فدرالي ادارې ته وړاندې کېدی شي:

Federal Transit Administration (FTA) Office of Civil Rights
1200 New Jersey, S. E. 5th Floor TRC East Building
Washington, DC 20590
Phone: 202.366.4043
يا
Federal Highway Administration (FHWA) Vermont Division
87 State Street, Suite 216
Montpelier, VT 05602
802.828.4423

11. د شکايت يوه کاپي او د AOT د پلټنې راپور، د موندنو ليک، او د اصلاحي اقداماتو پلان به د شکايت د لومړني ترلاسه کولو له نېټې څخه د 120 ورځو په دننه کې پورته ذکر شوې اړوندې ادارې ته وسپارل شي.

12. AOT به د د ورمونټ ايالت د عمومي ريکارډ ساتلو مهالوېش قانون GRS-1000.1102 د 2 CFR برخې 200.334 مقرراتو سره سم، او د ADA Circular 4701.1، برخې 12.7.3. مقرراتو سره سم، د سرغړونې په اړه ترلاسه شوي ټول شکايتونه په فايل کې د يو کال لپاره وساتي، او د دې ډول شکايتونو ريکارډ به په فايل کې د پنځه کلونو لپاره وساتل شي.

## د شکایت فورمه

زه باور لرم چې زه (یا بل څوک) د لاندې بنسټونو پر اساس تبعیض شوی: (ټول هغه انتخاب کړئ چې پلې کیږي):
نژاد _____ رنګ _____ملي اصل_____ معلولیت _____نور_____________________________________________

لومړی نوم: ______________________________ وروستی نوم: ______________________________________

پته: _____________________________________________________________________________________

_________________________________________________________________________________________

ښار:_________________________ ایالت:_________________________ زیپ کوډ:______________________

ټیلیفون:_________________________ بریښنالیک: ________________________________________________

د شکایت نېټه: ____________________ د ادعا شوي تبعیض نېټه او وخت: ___________________________

د پېښې ځای: _______________________________________________________________________________

_________________________________________________________________________________________

هغه څه د امکان تر حده په واضح ډول توضیح کړئ څه چې پیښ شوي او دا هم چې ولې تاسو باور لرئ چې تاسو پرخلاف تبعیض شوی. د هغه کس(کسانو) نوم او د اړیکو معلومات چې پر تاسو یې تبعیض کړی دی (که چیرې معلوم وي) او د کومو شاهدانو نومونه او د اړیکو معلومات شامل کړئ: ___________________________________________________________

_________________________________________________________________________________________

_________________________________________________________________________________________

_________________________________________________________________________________________

_________________________________________________________________________________________

_________________________________________________________________________________________

د هغه ادارې نوم د کومې پر ضد چې دا شکایت دی: ____________________________________________

په ادارې کې د اړیکې نیولو کس:______________________________________________________________

د اړیکې د کس رتبه/منصب: _________________________________________________________________

ټیلیفون شمېره:_______________________________________________________________________

آیا تاسو مخکې له دې ادارې سره د Title VI یا ADA شکایت ثبت کړی دی؟ هو ______نه ______

مهرباني وکړئ هر هغه اضافي معلومات چې ستاسو د شکایت سره اړوند دي اضافه کړئ: __________________________

_________________________________________________________________________________________

آیا تاسو دا شکایت د خپل ځان له خوا وړاندې کوئ؟ هو ______ نه ______ که نه، نو مهرباني وکړئ لاندې معلومات وړاندې کړئ:

د هغه کس نوم د چا لپاره چې تاسو شکایت وړاندې کوئ: ______________________________

د هغه کس سره ستاسو اړیکه چې تاسو د چا لپاره شکایت وړاندې کوئ: ______________________________

مهرباني وکړئ وضاحت ورکړئ چې تاسو ولې د دریمې خوا لپاره دا شکایت وړاندې کوئ: ______________________

______________________________________________________________

آیا تاسو د هغه کس څخه د دې شکایت د وړاندې کولو لپاره اجازه ترلاسه کړې ده؟ هو ______ نه ______

آیا تاسو دا شکایت له کوم بل فدرالي، ایالتي، یا سیمه ییزې ادارې سره، یا له کوم فدرالي یا ایالتي محکمې سره ثبت کړی دی؟
هو ______ نه ______ که هو، نو مهرباني وکړئ لاندې معلومات وړاندې کړئ:

د ادارې نوم: ______________________________________

په ادارې کې د اړیکې نیولو کس: ______________________________

رتبه/منصب: ______________________________________

پته: ______________________________________________

ښار: ______________ ایالت: ______________ زیپ کوډ: ______________

ټیلیفون: ______________ د شکایت د ثبتولو نېټه: ______________________